# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر دویمه | ۴۲۴مه گڼه


## هېواد

۴ مخ

### ختيځ تيمور

د ختيځ تیمور ۸۵ سلنه خلک د کرنې په سکتور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکتور څخه لاسته راځي.



### په کونړ کې د ۴،۲۲ میلیونو افغانیو په لګښت د کب روزنې فارمونه جوړ شوي



په کونړ کې د کب روزنې چارې او فارمونه د ودې په حال کې دي او په تېرو څو کلونو کې په دغه ولایت کې د کب روزنې زیات فارمونه جوړ شوي دي.

د کرنې وزارت په دې ولایت کې د کب روزنې د ترویج او دودولو په پار، د کب روزنې د ډېرو فارمونو د جوړولو ترڅنګ، د دې ولایت له کب روزونکو سره هر اړخیزې تخنیکي او مالي مرستې او همکارۍ کړې دي. د دغو مرستو او همکاریو په دوام، داخل د کونړ په څوکۍ ولسوالۍ کې د ۲۲،۴ میلیونو افغانیو په لګښت د ګرمو اوبو ماهیانو د بچیو د تولید فارمونه جوړ شوي، چې د ۲،۲ میلیونو ماهیانو د روزنې ظرفیت لري او ۲۰ د ماهیو یو جریبه فارمونه جوړ او د دې ولایت د چارواکو په شتون کې رسماً پرانیستل شول.

# د دوحې مذاکرات؛

## لا هم د طالبانو او امریکا ترمنځ په مذاکراتو کې ژور اختلافات شته دي



۳

### ایا د قطر خبرې بې پایلې ختمې شوې؟

۲ مخ

### "د چین ژمنې" د افغان ښځو توان لوړوي

۲ مخ

### کونړ ژاړي؛ خو حکومت غوږ نه پرې ګروي

۳ مخ

### وزارت ترانسپورت سیستم آنلاین مدیریت پروژه ها را ایجاد کرده است




سیستم معلومات مدیریت پروژه های وزارت ترانسپورت کشور گشایش یافت و مسئولان، به وجود آوردن شفافیت و مبارزه با فساد اداری در این وزارت را، هدف ایجاد این سیستم خواندند.

وزارت ترانسپورت که از مدتی به این سو ریاست عمومی ترافیک، اداره هوانوردی ملکی و اداره خط آهن نیز در چوکات آن تنظیم شده و فعالیت دارند، دیروز این سیستم را افتتاح کرد.

در این سیستم آنلاین، معلومات در مورد پروژه ها، پلان، سروی، دیزاین، تدارکات، ساخت، حفظ و مراقبت، رفع نواقص و تکمیل پروژه ها به تفکیک ولایت ها معلومات ارایه می شود.

یما یاری سرپرست وزارت ترانسپورت، در نشستی که به منظور گشایش این سیستم در آن وزارت تدویر یافته بود گفت که هدف از ایجاد این سیستم، به وجود آوردن شفافیت و مبارزه با فساد اداری در این وزارت می باشد.

وی افزود که روی ساخت این سیستم که با معیارهای بین المللی ساخته شده است، دو سال از سوی ۲۰ کارمند این وزارت کار شده است.

او گفت که از طریق این سیستم، مردم می توانند معلوماتی را دریافت کنند که وزارت ترانسپورت، در کدام بخش ها و مناطق چند پروژه دارد، هزینه پروژه ها به چند می رسد، و در کار پروژه چند درصد پیشرفت شده است.

یما یاری گفت که از طریق این سیستم، روزانه از تطبیق پروژه ها گزارش داده می شود و مردم نیز می توانند روی آن تبصره کنند، پیشنهاد و انتقادی داشته باشند و از این طریق، در تصمیم گیری های وزارت سهیم شوند.

### شکایتونو کمیسیون:

### د ټاکنیزو شکایتونو په ثبت کې تر دې مهاله د خلکو رول صفر دی



۲ مخ

### په فاریاب کې هوایي برید د یوې کورنۍ ۱۲ غړي وژلي

په فاریاب ولایت کې پر یوه کور په هوایي برید کې ۱۲ ملکي کسان وژل شوي دي.

د فاریاب د ولایتي شورا غړي وايي، چې وړمه شپه د دغه ولایت په ګرزیوان ولسوالۍ کې پر یوه کور هوایي برید شوی، چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون، د دوو کورنیو ۱۲ غړي وژل شوي دي.

دوی وايي چې په وژل شویو کسانو کې یوازې اته تنه ماشومان دي.

د فاریاب د ولایتي شورا غړي وايي، چې وژل شوي کسان بې ګناه ملکي وګړي دي او له وسله والو طالبانو سره هېڅ ډول اړیکې نه لري.

خو دوی دا نه دي ویلي چې برید بهرنیو ځواکونو او که افغان ځواکونو کړی. بلخوا تر اوسه ملي دفاع وزارت او د افغانستان په شمال کې ۲۰۹ قول اردو په دې تړاو څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده چې د سولې له روانې حساسې پروسې سره سم، په هېواد کې د جګړې ډګر بیا تود شوی او هره ورځ د دغو جګړو لویه بیه ملکي وګړي پرې کوي. پر ښارونو د وسله والو طالبانو بریدونه، بمي چاودنې، ځانمرګي بریدونه، هوایي بمبارۍ او شپني عملیات تر ډېره هغه لاملونه دي چې هره ورځ پکې د هېواد په ګوټ ګوټ کې لسګونو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د ملکیانو پر مرګ ژوبلې په کور دننه او نړیوالو بنسټونو غبرګونونه هم ښودلي او د جګړې له دواړو غاړو یې غوښتي چې د ملکیانو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي.


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریـــځ

# ایا د قطر خبرې بې پایلې ختمې شوې؟

پرون ځینو رسنیو خبرونه خپاره کړل چې په قطر کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د سولې خبرې بې پایلې ختمې شوې او کوم توافق ته ونه رسېدل. په رپوټونو کې ویل شوي وو چې بیا به خبرې ژر پیل نه شي. وروسته خلیلزاد په یوه ټویټ کې وویل چې موږ د یوې موافقې په درشل کې یو چې تشدد به راکم کړي او د بین الافغاني مذاکراتو دروازې به پرانیزي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند هم وویل چې خبرې په بریالیتوب سره پای ته رسېدلې دي او د ده په خبره چې د سوله ییز حل په درشل کې یو.

په قطر کې د خبرو نهم پړاو بې پایلې نه و، خو هغسې هم نه و چې تمه یې کېدله. که څه هم وروستۍ هوکړه نه ده شوې، خو لکه چې سهیل شاهین ویلي دي، تخنیکي ټیمونه به کار کوي. خلیلزاد په کابل کې دی او شوي پرمختګونه به له چارواکو او سیاستوالو سره شریکوي. دغه راز د خلیلزاد د سفر یوه اساسي موخه دا ده چې حکومت د بین لافغاني خبرو لپاره د پلاوي وروستي کولو ته اړ باسي. که څه هم حکومت ویلي چې پلاوی ټاکل شوی، خو سیاستوال او د حکومت سیاسي مخالفین بیا په دې برخه کې د ستونزو او له دوی سره د نه مشورې خبرې کوي. له همدې امله یو داسې پلاوی نشته چې له حکومته د باندې سیاستوال هم ورسره موافق وي او د افغانانو استازیتوب وکړلی شي. خلیلزاد به له همدې امله پر ولسمشر غني فشار راوړي او اړ به یې کړي چې ژر دا ستونزه حل کړي او د بین الافغاني خبرو لپاره تیاری ولري.

د بین الافغاني ټیم وروستي کول به مهم پرمختګ وي، خو په قطر کې به هڅه روانه وي چې شته اختلافات ژر حل شي. د دواړو اړخونو ترمنځ اوسنۍ ستونزه دا ده چې له طالبانو غوښتل کېږي چې پر امریکایي ځواکونو د وتلو پر مهال برید ونه کړي، خو طالبان وایي چې د دې په بدل کې باید امریکا له افغان امنیتي ځواکونو سره مرسته ودروي. امریکایي لوری دا چاره له امنیتي تړون سره تړلې ګڼي، خو طالبان پر دې هم ټینګار کوي چې د دې هوکړه لیک له لاسلیک سره سم به امنیتي تړون لغوه کېږي. امریکایي اړخ بیا وایي چې د تړون د موادو پر اساس که کوم لوری وغواړي، دا تړون لغوه کړي، نو دوه کاله وړاندې باید مقابل لوري ته احوال ورکړي. اوس که امریکا دا تړون لغوه کوي، دوه کاله مخکې به حکومت ته احوال ورکوي. په دې ډول یوه ستونزه را پیدا شوې چې اوس دواړه لوري هڅه کوي دې چارې ته یو دریېم حل پیدا کړي.

څه چې روښانه دي، هغه دا دي چې د قطر خبرې له ماتې سره مخ شوې نه دي او داسې نه ښکاري چې بې پایلې دې ختمې شي. خو دا د دې مانا هم نه لري چې په قطر کې هر څه سم روان دي. هلته ستونزې شته او ښکاري چې د دې ستونزو حل به وخت واخلي او دواړه لوري به هڅه کوي چې د فشار راوړلو لپاره په افغانستان کې تاوتریخوالی هم زیات کړي. له دې ټولو سره سره، د امریکا او طالبانو توافق کېدونکی دی، خو څومره ژر چې خلک یې تمه لري، شونتیا یې کمه ده.

# "د چین ژمنې" د افغان ښځو توان لوړوي

په افغانستان کې د چین سفارت شارژدافیر وانګ دا شوی

څلور کاله دمخه د منې په سپټمبر کې د چین د دولت رییس شي جین پینګ په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په مقر کې د ښځو نړیوالې سرمشریزې غونډې ته په وینا کې د جندر مساوات او د ښځو د هراړخیزې ودې د پیاوړتیا په اړه څلور فقرییز وړاندیز وکړ او اعلان یې وکړ چې چین به په راتلونکو پنځو کلونو کې د پرمختیایي هېوادونو دېرش زرو ښځو ته بلنه ورکړي، چې د روزنې لپاره چین ته ولاړې شي. دې چارې په نړۍ کې د ښځو د چارو په پرمختیا کې د چین مسوولیت منونکې رویې ښودنه کړې او په یاده سرمشریزه کې د بېلابېلو ګډونوالو لخوا وستایله شوه.

" د چین ژمنې" په پلې کېدو سره د زیاتو پرمختیایي هېوادونو د ښځو لید ساحه پراخه او وړتیاوې یې پیاوړې شوې، چې دا په نړۍ کې د ښځو په دوامداره پرمختیا کې د چین خدمتونه او د دغو خدمتونو لاسته راوړنو ښودنه کړې ده. په تېرو څلورو کلونو کې د اسیا، افریقا، لاتیني امریکا، ختیځې اروپا او د ارام سمندر په ټاپوګانو کې د پرتو هېوادونو څه باندې ۲۰ زرو ښځو د چین په بلنه په دغه هېواد کې د عامه اداري او ټولنیزو ډلو، اقتصاد او سوداګرۍ، ښوونې، روغتیا، کرنې، ځنګلدارۍ، مالدارۍ او ماهیګیرۍ په بېلابېلو روزنیزو کورسونو کې ګډون کړی دی. چین د پرمختیایي هېوادونو لپاره د ۲۰۳۰ ز کال د دوامداره پرمختګ اجنډاوو د عملي کولو په اړه روزنیز کورس جوړ کړ او پکې یې د ښځو او ماشومانو د پرمختیا په برخه کې خپلې تجربې شریکې کړې. د چین ښځو ټولنې څو ځلې د ښځینه چارواکو روزنیز کورسونه دایر کړي او پکې د ۸۴ پرمختیایي هېوادونو د ګوندونو او د ښځو سازمانونو مشران روزل شوي دي. د چین هو بی، هو نان، ګوانګ شي، یون نان او شان شي د ښځو ټولنو له شاوخوا هېوادونو سره په ګډې همکارۍ ځینې روزنیزې پروژې تر سره کړې، چې له مخې یې د دغو پروژو ګډونوالو له بېجینګ، جه جیانګ او داسې نورو ځایونو څخه لیدنې وکړې او له سیمه ییزو ښځو سره یې د نظر تبادلې وکړې. د چین ښځو پوهنتون د پرله پسې دریو کلونو لپاره د ښځو رهبرۍ او ټولنیزې ودې په نوم د ماسترۍ روزنیزه پروژه جوړه کړې ده. تېر کال یوه افغان مېرمن د دغه پوهنتون د ټولنیزو کارونو څانګې ته بریالۍ شوې ده او نومړې یې استادانو او د نورو هېوادونو زده کوونکو وستایلې.

په حقیقت کې د ښځو لپاره د چین لخوا په بېلابېلو جوړو شوو روزنیزو پروژو کې افغان زده کوونکي ګډون لري، ځکه چې د ښځو چارو په برخه کې همکارۍ د چین او افغانستان ترمنځ د ستراتېژیکو همکاریزو اړیکو یوه مهمه برخه ده او د چین حکومت او په کابل کې د چین سفارت ورته ډېره پاملرنه کوي. په تېرو څلورو کلونو کې ۲۹۰ افغان ښځینه کارپوهانو د چین په بلنې، په دغه هېواد کې په روزنیزو پروژو کې ګډون کړی و، د حکومتي ادارو د پروتوکول افسرانو، د احسایي او د اقتصادي برخو مسوولینو ځینې ځانګړي روزنیز کورسونه تر ډېره د ګډونوالو له هرکلي سره مخ شوي او برخه اخیستونکو یې څرګنده کړې ده چې د دغو کورسونو محتویات زیات او ګټور دي. سربېره پر دې، په تېرو څلورو کلونو کې د چین حکومت په مالي مرستې ۱۵ افغان نجونې په دغه هېواد کې زده کړې کړې، د زړه سوري پر مورزادي ناروغۍ اخته د ۳۶ افغان نجونو درملنه شوې، د کابل د ووشو لوبې ښځینه ډلې له چین څخه لیدنه کړې. دغه راز چین په مزارشریف کې د نجونو د یوه ابتدایي ښوونځي د جوړولو لپاره بسپنه ورکړې، د بدخشان په زیباک ولسوالي کې یې د ښځو د روزنیز ښوونځي د جوړولو ملاتړ او ورسره یې مرسته کړې، د افغانستان د ښځو چارو وزارت ته یې د ورزش وسایل ورکړي او په جلا جلا توګه یې د افغانستان د بېلابېلو ولایتونو ښځینه مرستیالانو، د افغان مېرمن ټولنې او نورو سازمانونو مسوولینو ته د شانګهای همکارۍ سازمان د ښځو په فورم او نورو نړیوالو غونډو کې د ګډون بلنې ورکړې. چین همدارنګه د کندهار میرویس روغتون، د کابل جمهوریت روغتون، د کابل پوهنتون د ځینو تدریسي وسایلو، استوګنیزو اپارتمانونو، مسلکي روزنیز مرکز په جوړولو کې اساسي ونډې اخیستې دي او دغو ځایونو افغان ښځو ته تر ډېره ګټې رسولې دي.

چین له افغان مېرمنو سره د زده کړې او استعداد ښودنې په برخه کې هم مرستې کړې دي. له ۲۰۱۶ ز کال څخه تر ۲۰۱۹ ز کال پورې هر کال د کابل پوهنتون د کنفوسیوس پوهنځي غوره محصلینو په افغانستان کې د چیني ژبې پل په نوم د محصلینو د چیني ژبې نړیوالې سیالۍ په سیمه ییزه لوبه کې ګډون کوي او پکې درې غوره ښځینه محصلینو لومړۍ درجه خپله کړه او په چین کې یې د بېلابېلو هېوادونو له چینایي مینه والو سره د یادې نړیوالې سیالۍ په فاینل لوبه کې سیالي وکړه. د تېر کال په مې کې په افغانستان کې د چین سفارت د افغانستان د غلام محمد میمنه ګي هنري ښوونځي دوه ښځینه استادانو د چین سفارت په بلنې چین ته سفر وکړ او په بېجینګ کې یې د شهزاده ګونګ ماڼۍ په موزیم کې انځوریز نندارتون جوړ کړ. د روان کال په مارچ کې د چین سفارت په مرستې، افغان عکاسې فاطمې حسیني د عکسونو نندارتون جوړ کړ او د افغان حکومت د ښځینه چارواکو، ښځینه پارلماني غړو، د کنفوسیوس پوهنځي ښځینه استادانو او محصلینو او په دغه هېواد کې د نورو هېوادونو ښځینه ډیپلوماتانو په ګډون، نږدې ۱۵۰ مېرمنو ورڅخه لیدنه وکړه. همدارنګه مېرمن فاطمه حسیني به د چین د سونګ چینګ لینګ صندوق په بلنې په راتلونکې میاشت کې د خپل نندارتون د جوړولو لپاره چین ته ولاړه شي. هیله لرم چې د هغې نندارتون بریالی شي او زیات چینایان د افغان مېرمنو ښکلا، مثبته ښه، زیارونه او وړتیا احساس کړي.

سږ کال د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو سلمه کلیزه ده. په تېرو ۱۰۰ کلونو کې د افغانستان د خپلواکۍ ساتنې او ابادۍ په برخو کې د دغه هېواد د مېرمنو وتلي خدمتونه د پام وړ دي او دوی د جګړې له امله تر ټولو ډېرې ځپل شوې او دایمي سولې ته تر ډېره لېوالتیا لري.

رییس شي جین پینګ داسې وایي: "که د نړۍ ګوټ کوټ ته وګورو، وبه وینو چې په بېلابېلو هېوادونو او بېلابېلو سیمو کې د ښځو د پرمختګ سویه لاهم برابره نه ده او ټولنې لا تر اوسه د ښځو پټ قوت، وړتیا او خدمتونه په بشپړه توګه نه دي پېژندلي، موږ باید خپلو هڅو ته دوام ورکړو او د ښځو د چارو د پرمختیا لپاره دې زمینې پراخې کړو". زموږ سفارت به په راتلونکي کې په پرله پسې توګه "د چین ژمنې" پلې کړو او افغان مېرمنو ته به د زده کړې، د نظر تبادلې او روزنې لپاره چین ته د تللو زیاتې زمینې برابره کړو. هیله ده چې افغان مېرمنې "د نیمې نړۍ" رول په لاښه توګه ولوبوي او د افغانستان د سولې راوستلو او د هوسا او سوله ییزې نړۍ د جوړولو لپاره خدمتونه وکړي.

## خارونکي بنسټونه: د رایې ورکوونکو په نوملړ کې ډېری ثبت شوي نومونه خیالي دي



پر ټاکنو څارونکي بنسټونه او سیاسي جریانونه وایي چې د رایې ورکوونکو نوملړ نیمګړی دی او لاهم ډېرې ستونزې لري. دوی وایي چې دغه نوملړ د رایې ورکوونکو په نومونو کې تېروتنې لري او په دغه نوملړ کې درج شوي ډېری نومونه خیالي دي.

د سیاسي ګوندونو د کمېټې غړي نورحمان اخلاقي ازادي راډیو ته ویلي چې په نوملړ کې د رایې ورکوونکو زیات غیر واقعي نومونه درج شوي، چې کمېسیون یې په تصفیې نه دی بریالی شوی.

نوموړي ویلي: «شاید له څلورو میلیونو زیات نومونه خیالي وي، خو یو ټکی دا دی چې هغه اصول چې د انتخاباتو کمېسیون او درملوک شرکت له لوري له سیاسي ګوندونو سره پرې هوکړه شوې، که هغه اصول پلي شي، نو خیالي کسان رایې نه شي ورکولی».

د دغو اصولو یو مورد دا دی چې رایه ورکوونکي باید په بایومېټریک کې ثبت شي او د دغه دستګاه باید د دې ظرفیت ولري، چې له تکراري رایې مخنیوی وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اعلان له مخې، د جمهوري ریاست په ټاکنو کې ۹.۶ میلیونه کسان د رایې ورکونې پر شرایطو برابر دي.

دغه راز یوه بله اندېښنه چې په ټاکنو کې د درغلۍ په اړه مطرح کېږي، هغه د رایې ورکوونکو د نوملړ په اړه ده چې د رایې اچونې نوملړ په مرکزونو او محلونو کې د مسوولو کسانو په لاس کې دی.

د ټاکنو پر ورځ دغه نوملړ د رایې اچونې مرکزونو او محلونو ته ځي او پر بنسټ یې د رایې ورکوونکي نوم او مشخصات تثبیتېږي.

په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا وایي، که د رایې اچونې په محلونو کې له نوملړه رایه ورکوونکي کم وي، وېره شته چې د رایو اچونې په مرکزونو کې کارکوونکي د شته نوملړ له مخې، د یوه ځانګړي کاندید په ګټه صندوقونه ډک کړي.

د فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید وایي: «دا اندېښنه موجوده ده چې په هغو سیمو کې چې عملیاتي پروګرامونه پیل شوي، په هغه ځای کې کمېسیون او دارالانشا نشته، په هغه ځای کې د فساد او علاقمندۍ مسایل مطرح کېږي. زموږ تمه دا ده چې بایومېټریک فعال نقش ولوبوي او له ټکنالوژۍ موثره استفاده وشي، څو له دې مورده مخنیوی وشي».

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رایې اچونې په نوملړ کې ځینې غلطۍ مني، خو د دغه کمېسیون ویاند عبدالعزیز ابراهیمي د کمېسیون د کارکوونکو له لوري په ټاکنو کې درغلۍ ردوي.

## شکایتونو کمېسیون: د ټاکنیزو شکایتونو په ثبت کې تر دې مهاله د خلکو رول صفر دی



د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي چې د انتخاباتي کمپاینونو له پیله تر اوسه د شکایتونو په ثبت کې د خلکو رول صفر دی.

دغه کمېسیون ویلي چې د ټاکنیزو کمپاینونو له پیله نږدې یوه میاشت اوړي، خو خلک دومره ساړه او زړه ماتي دي چې د ټاکنیزو ټیمونو له لوري له قانونه د سرغړونې په اړه یې هېڅ شکایت نه دی ثبت کړی. خو دغه کمېسیون ویلي چې د ټاکنیزو ټیمونو له لوري پر یو بل ۴۹ شکایتونه ثبت شوي دي.

د یاد کمېسیون ویاند قاسم الیاسي ازادي راډیو ته ویلي: «د انتخاباتي کمپاینونو له پیله تر اوسه د پنځو- شپږو انتخاباتي ټیمونو له لوري په یو بل باندې ۴۹ شکایتونه درج شوي، په ازاد ډول د خلکو له لوري هېڅ شکایت نه دی درج شوی».

که څه هم نوموړي د کوم ځانګړي ټاکنیز ټیم نوم نه دی اخیستی، خو په خبره یې چې پنځو- شپږو مطرحو ټیمونو دغه شکایتونه ثبت کړي دي.

نوموړي زیاته کړې چې دغو ټیمونو ته یې خبرداری لېږلی او د تخلف د تکرار په صورت کې به نغدي جریمه او له ټاکنیزو سیالیو محروم شي.

دغه څرګندونې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې یاد کمېسیون د محمد اشرف غني په مشرۍ د دولت جوړوونکي او د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیمونو ته په ټاکنیزو کمپاینونو کې له حکومتي امکاناتو د استفادې په اړه خبرداری ورکړی و.

په ورته وخت کې پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي، چې د شکایتونو کمېسیون په دې اړه خلکو ته د عامه پوهاوي د ورکړې په اړه ناغېړې کړې، نو له همدې امله خلک د شکایتونو د ثبت په اړه معلومات نه لري.

د افغانستان د ازاد څار بنسټ یا «فوا» رییس مبین ایماق ویلي: «که چېرې وضعیت همداسې دوام پیدا کړي، موږ به د انتخاباتو په ورځ د کمو خلکو د ګډون شاهدان یو، خلک دغه بهیر ته د ۲۰۱۴ ز کال د انتخاباتو په سترګه ګوري او ګومان کوي چې زموږ رایې نه حسابېږي، نو څه ګټه لري چې په انتخاباتو کې برخه واخلو. اړتیا ده چې دوی ته پوهاوی ورکړل شي، که نه نو دغه حالات د راتلونکو انتخاباتو لپاره کړکېچ زېږوونکي دي».

د یادونې ده چې ولسمشریزو ټاکنو ته انتخاباتي کمپاینونه د روان کال د زمري په شپږمه پیل شوي او د تلې تر څلورمې به دوام وکړي چې د سکوت له دوې ورځنۍ دورې وروسته به یادې ټاکنې د تلې په شپږمه وشي.

# کونړ ژاړي؛ خو حکومت غوږ نه پرې ګروي

لیکنه: خوشحال آصفي

کلونه کېږي چې پاکستاني ځواکونه زموږ پر خاوره او دردېدلي ولس توغندي وروي، چې موخه یې نه خلکو ته معلومه ده او نه یې افغان حکومت د مسوول په صفت سمه پوښتنه وکړه. ستاسې به په یاد وي چې یو ځل پخواني دفاع وزیر بسم الله خان محمدي ویلي وو: «کرزي صیب د بالمثل عمل امر ورته کړی، خو دوی مني چې ناغېړي یې کړې ده»، خو له بده مرغه دا لړۍ لا هم روانه ده او د ملي یووالي په څه ناڅه پنځه کلنه دوره کې د پاکستاني ړندو توغندیو باران په درز کې روان دی او د کونړ ولایت پر سرحدي ولسوالیو یې زرګونه توغندي ورولي، چې له کبله یې په سلګونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې او سلګونه کورنۍ د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوې دي.

دا لومړی ځل نه دی چې پاکستاني ځواکونه پر کونړ ولایت توغندیز بریدونه کوي او یوازې کونړ ولایت هم نه دی، چې پاکستان په کې د افغانستان پر خاوره تېری کوي، بلکې له دې وړاندې په وار وار د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې، د پکتیکا په انګور اډه کې، د هلمند په بهرامچه کې، د خوست په غلام خان کې او د کندهار په سپین بولدک ولسوالۍ کې د افغانستان خاورې ته په لسګونو کیلومتره وړاندې راغلي او ان دا چې په افغان خاوره کې یې پوځي تاسیسات هم جوړ کړي دي، خو له بده مرغه افغان حکومتونو یې پر وړاندې چوپتیا غوره کړې ده. په ځانګړې توګه د اشرف غني او عبدالله عبدالله په مشرۍ حکومت یې پر وړاندې د پټې خولې سیاست غوره کړی دی. په دې لیکنه کې یوازې په کونړ ولایت کې د پاکستان په تېري او تر شا یې په پرتو موخو، عواملو، د اوسني افغان حکومت پر چوپتیا او د کونړ ولایت پر ستراتیژیک اهمیت خبرې کوو.

**د کونړ ستراتیژیک او اقتصادي اهمیت او د ناامنه کولو تر شا یې د پاکستان موخه:**

یاد ولایت د پاکستان تر ولکې لاندې پښتونخوا سره کابو ۱۸۰ کیلومتره ګډه پوله لري. لکه څرنګه چې د کونړ سوېل ته ننګرهار ولایت او لوېدیځ ته یې لغمان ولایت موقعیت لري، نو په آسانۍ سره ترې ننګرهار او لغمان ولایتونه کنټرول کېدلای شي، چې د همدې ستراتیژیک اهمیت له مخې پاکستان غواړي یاد ولایت ناامنه او خلک یې پر حکومت بې باوره کړي، څو اړ شي چې د پاکستان شناختي کارډونه واخلي.

که د حکومت د چوپتیا د سیاست په پایله کې خدای مکړه کونړ د پاکستان لاس ته پرېوځي، نو مانا یې دا ده چې ننګرهار او لغمان به په ډېرې آسانۍ د پاکستان تر نفوذ لاندې راشي. کونړ ولایت له پوځي اړخه هم ډېر ستراتیژیک اهمیت لري او پاکستان غواړي چې په هر قیمت او هره لاره وي، د کونړ خلک وځپي، څو خپلې شومې موخې ته ورسېږي.

بله او اصلي موخه یې دا هم کېدلی شي، چې دغه سیمه له خلکو څخه تشه او خپل "جاسوسان او ترهګر" پکې وروزي.

همدا راز کونړ ولایت د هېواد په کچه اصلي د نښترو (چهارتراش) بې ساري ځنګلونه لري. پر دې سربېره، د نښون (زیتون) څېړۍ او د سون لرګیو نور ډول ډول ځنګلونه لري.

په کونړ کې پر قدرتي ځنګلونو سربېره، د پېچ درې ولسوالۍ په ماڼوګي او چپه دره کې د قیمتي ډبرو (بیروج) کانونه ډېر زیات دي، همداشان په خاص کونړ او سرکانو ولسوالیو کې د (کرومایټ)کانونه دي، چې په قاچاقي توګه کیندل کېږي او پاکستان ته قاچاق کېږي.

بل پلو د کونړ د سیند اوبه دا مهال په وړیا توګه پاکستان ته ځي، خو که پر دې سیند بند جوړ شي، نو ډېرې اوبه به یې په افغانستان کې ولګول شي. دلته هم پاکستان د کونړ ولایت د ناامنه کولو په موخه پر دې ولایت توغندیز بریدونه کوي، څو د کونړ د سیند اوبه پرې بندې نه شي او یاد هیواد ته د قاچاق کېدونکیو قیمتي ډبرو مخنیوی ونه شي.

**پایله**

له تېرو څو کلونو راهیسې په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو په ځانګړې توګه د افغانستان په ځمکنۍ بشپړتیا د تېري پر وړاندې افغان دولت وړ او مناسب غبرګون نه دی ښودلی، چې پایله یې د پاکستان زړورتیا ده.

د پاکستان پر وړاندې د افغان حکومتونو د چوپتیا ښه بېلګه د اشرف غني او عبدالله عبدالله شریک حکومت اوسنی دریځ دی، چې تر اوسه یې د پاکستان له لوري پر افغان خاوره هر رنګه تېری یوازې غندلی دی او بس او تاسې به لیدلي وي، چې ان د کمپاین لپاره هم یوازې پر ټلیفوني خبرو اتکا وشوه او خلاص.

**پوښتنه**

دا چې ولې یې تر اوسه وړ او جدي اقدام نه دی کړی او کوم مجبوریتونه دي، چې نه شي کولی له خپلو خلکو دفاع وکړي؟ بېلابېلې پوښتنې زېږوي.

یوه پوښتنه دا ده چې آیا د حکومت مشرانو د افغانستان د خدمت هوډ او قسم نه دی کړی؟

څوک یې غبرګون ته نه پرېږدي؟

آیا له غبرګونه سترې شوي دي؟

آیا ډیپلوماسي یې ناکامه وه، چې نه شي کولای ملګرو ملتونو ته پر پاکستان د فشار راوړلو قناعت ورکړي؟

که د خلکو خادمان دي؛ نو بیا ولې د خلکو وینه او ژوند ورته اهمیت نه لري؟

او لسګونه داسې نورې پوښتنې...

**حللاره**

داسې ښکاري چې د حکومت تېرې چوپتیا ته په کتو ولس باید لاس پکار شي او د حل لاره د حکومت په لاس کې نه، بلکې د ولس په لاس کې ده.

نو پکار ده چې خلک را پاڅېږي، خپل حکومت اصلاح کړي او د خپل ژوند د خوندیتابه لپاره سره یو موټی شي، له خپلې خاورې دفاع وکړي او هماغسې چې د نورو زبرځواکونو خوله یې په سوک سمه کړې ده؛ د تور پنجابي خوله په سوک ور سمه کړي، څو پوه شي چې:

لا تر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي

چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی

پاکستان عملاً پر افغانستان یرغل کړی او کوي یې او له خپلې خاورې دفاع که حکومت نه شي کولی او په کمپاینونو کې بوخت دی، نو دا دې ولس دنده ده چې متې را ونغاړي او د هوساینې غږ پورته کړي.

# د دوحې مذاکرات؛

## لا هم د طالبانو او امریکا ترمنځ په مذاکراتو کې ژور اختلافات شته دي



سره له دې چې د مذاکراتو په نهم پړاو کې د امریکایي او طالب لوري ترمنځ د هوکړې د لاسلیک خبره کېده، خو د دواړو لورو ترمنځ مذاکرات بې پایلې پای ته رسېدلي دي. له قطر دفتره ځینو سرچینو کابل نیوز ته ویلي، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د هوکړې پر پنځمه ماده اختلاف رامنځ ته شوی دی، نو ځکه دوی د هوکړې لاسلیک ته تر دې دمه تیار نه دي.

تر دې وړاندې په اتم پړاو مذاکراتو کې داسې انګېرل کېده، چې امریکا او طالبان به د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره هوکړه لاسلیک کړي، خو دا مسئله نهم پړاو مذاکراتو ته لاړه. نهم پړاو مذاکرات د دواړو لورو ترمنځ اوږده شول او د پرمختګونو خبره کېده. خو له پرمختګونو سره سره، تر دې دمه دواړه لوري نه دي بریالي شوي چې هوکړه لاسلیک کړي. ویل کېږي چې تازه د طالبانو او امریکا ترمنځ د هوکړې پر پنځمه ماده اختلاف رامنځ ته شوی دی. سرچینې وایي، طالبانو پر بهرنیو ځواکونو د برید نه کولو مسئله له افغان ځواکونو د امریکایي ځواکونو په نه ملاتړ پورې مشروطه کړې ده. طالبان ټینګار کوي چې امریکایي لوری دې له افغان ځواکونو خپل ملاتړ واخلي او په دې توګه به دوی هم پر بهرنیو ځواکونو خپل بریدونه ودروي.

بلخوا سرچینې وایي، امریکا دا خبره منلې ده چې په پټه به له رسمیاتو او سند پرته پر افغان ځواکونو خپلې مرستې کمې کړي، خو د هوکړې په متن کې دا مسئله ذکر کول د امریکا حیثیت ته زیان رسوي. طالبان بیا ټینګار کوي چې باید ټول مسایل په لیکلې بڼه په هوکړه کې ځای پر ځای شي.

طالبان دغه راز وایي چې د امریکا او طالب لوري ترمنځ د هوکړې له لاسلیک سره سم باید له افغان حکومت سره د امریکا ټرونونه لغوه اعلان شي، خو امریکا دې کار ته نه ده تیاره او وایي چې دا مسئله به په افغانستان کې د نوي حکومت تر راتګ پورې د بحث وړ نه وي. طالبانو له امریکا سره دا خبره نه ده منلې چې د خپلو ټولو ځواکونو تر وتلو وروسته به دغه تړون لغوه کوي، بلکې پر دې ټینګار کوي چې تړون باید له دوی سره د نوي تړون له لاسلیک سره سم لغوه کړل شي.

د سیاسي مسایلو شنونکی وحید مژده بیا وایي، چې اوس د افغانستان د ستونزې د حل لپاره یوازې دا لار پاتې ده چې د طالبانو په شمول، یو ګډ حکومت جوړ کړل شي او تر هغې وروسته به ټول مسایل د دې حکومت له لوري حل کړل شي. مژده وایي: ((دا مسئله هغه وخت حل کېږي چې د طالبانو په ګډون یو نوی حکومت جوړ کړل شي. طالبان باید پکې رول ولري. دغه حکومت باید بیا ټول مسایل له امریکا سره حل کړي)).

بلخوا طالبان او امریکا بیا دواړه په خبرو کې د پرمختګونو خبره کوي. زلمي خلیلزاد ویلي وو، دوی د داسې هوکړې په لټه کې دي چې په افغانستان کې تاوتریخوالی راکم کړي او په دغه هېواد کې د جګړو د ختمېدو سبب شي. ده پر طالبانو هم غږ کړی و چې د کندوز په څېر جګړې دې پای ته ورسوي او له تاوتریخوالي دې لاس واخلي.

خلیلزاد په خبرو کې د پرمختګ خبره هم کړې ده او وایي، ډېر ژر به د سولې د روانو خبرو په اړه ټول معلومات له افغان حکومت سره شریک کړي. طالب ویاند سهیل شاهین هم په یوه ټوېټ کې ویلي، چې خبرې په ښه لوري رواني دي. د ده په خبره، دوی پر مهمو مسایلو هوکړې ته رسېدلي دي او یوازې ځینې تخنیکي مسایل د بحث لپاره پاتې دي.

# مکرون: ایران دې په اوسني حالت کې له زغم څخه کار واخلي

په داسې حال کې چې په منځني ختیځ کې کړکېچ ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دی، د فرانسې ولسمشر ایمانوېل مکرون خپل ایراني سیال حسن روحاني ته ویلي دي چې له زغم څخه کار واخلي.

د فرانسې د جمهوري ریاست دفتر په یوه بیان کې ویلي، مکرون پر روحاني غږ کړی چې د ایران په ملاتړ حوثي یاغیان دې په یمن کې د جګړې د ختمولو لپاره خبرو ته وهڅوي.

بیان د مکرون له قوله زیاته کړې چې تهران باید په لبنان کې هم له خورا زیات زغم څخه کار واخلي، څو په سیمه کې پراخېدونکی کړکېچ په اوسني حالت کې د دې سیمې ثبات زیانمن نه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د لبنان په شاوخوا کې له څو اونیو راهیسې اسراییل او ایراني تحرکاتو دا دواړه پخواني دښمنان یوه ښکاره وسله وال تقابل ته نږدې کړي دي.

بلخوا د امریکا متحده ایالتونه پر ایران تور لګوي چې په یمن کې د حوثي یاغیانو او په لبنان کې د شیعه حزب الله ډلې په ګډون، په سیمه کې د تروریستي ډلو ملاتړ کوي، خو ایران بیا بیا دغه تورونه رد کړي دي.

د مکرون دفتر په بیان کې همدا راز راغلي، چې نوموړي په ټلیفوني خبرو کې پر روحاني فشار راوړی چې د نړۍ له پیاوړو هېوادونو سره د ۲۰۱۵ ز کال اتومي هوکړې ته ژمن پاتې شي.

د فرانسې ولسمشر ایمانوېل مکرون چې غواړي د ایران او امریکا ترمنځ په روان کړکېچ کې د منځګړي رول ولوبوي، مخکې له دې یې د امریکایي او ایراني مشرانو د غونډې د جوړولو هڅه هم کړې ده.

هغه ویلي چې له اوسنیو هڅو څخه یې موخه له ایران سره د شپږو پیاوړو قدرتونو د اتومي موافقې ژغورل دي.

په ورته وخت کې د فرانس پرېس خبري اژانس د راپور له مخې، روحاني خپل فرانسوي سیال ته خبرداری ورکړی چې که اروپایي هېوادونه خپلې کړې ژمنې عملي نه کړي، نو د تهران راتلونکی اقدام به دا وي چې د خپل اتومي پروګرام د محدودولو په تعهداتو کې نور کموالی راولي.

د یادونې ده چې د ایران او امریکا ترمنځ روان کړکېچ هغه مهال مخ پر زیاتېدو شو، چې ولسمشر ټرمپ د تېر کال په مې میاشت کې له دغه تړونه د امریکا وتل اعلان کړل.

په بیان کې دغه راز راغلي چې روحاني مکرون ته ویلي چې له دې هوکړې په یو اړخیز ډول د امریکا تر وتلو وروسته اروپایي هېوادونو د ضمانت کوونکو په توګه د خپلو ژمنو د عملي کولو په برخه کې هېڅ مشخص اقدام نه دی کړی.


## د کتــاب خبــري

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

### دریم څپرکی
### د طالبانو قدرت




په ۱۹۹۰ ز لسیزه کې د اسلام‌اباد هغه دلچسپي چې طالبان به په افغانستان کې د هغوی د قدرت یو موډل وي، اصل کې له فاټا څخه انګېزه اخیستې وه، هغوی فکر کاوه چې پر افغانستان به هم د فاټا په څېر غیرمستقیم کنټرول ولري. کرنل امام چې اصل نوم یې امیر سلطان ترار و، په افغانستان کې معتبر نماینده و. هغه په هرات کې د جنرال قونسل په توګه ګمارل شوی و، خو په حقیقت کې یې د طالبانو مشـر ملا محمدعمر ته د لارښود او استاد رول لاره. کرنل امام ادعا کړې وه چې په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې یې ملا محمدعمر ته چې ځوان و، روزنه ورکړې ده. امام د افغانستان لپاره د ISI د اړینې ځانګې کارکوونکی و، هغه د شوروي اتحاد او کمونېستانو پر وړاندې جګړه او منابعو په پیدا کولو کې اړین رول لوبولی و.

کرنل امام په ختټه پنجابی و، هغه د افغانستان په اړه د پاکستاني پوځ له فکر سره ژور تړاو لاره، فکر یې کاوه او غوښتل یې چې اسلام پال پښتانه په ختیځ کې د هند او په لوېدیځ کې د سېکولر ملت پالو افغانانو پر وړاندې د هغوی تر کنټرول لاندې یو ځواک و اوسي. په پاکستاني پوځ کې ځینې لیکوال د طالبانو د ملاتړ کرېډېټ ځینو پښتنو پاکستاني نظامیانو ته ورکوي، خو دا به هېڅ عملي نه وي چې په پوځ کې له اتیا سلنه ډېر قدرت د پنجاب ولایت په لاس کې وي او په یوه ګاونډي هېواد کې دې ځوک پر قومي اړیکې یاغیان را پیدا او ملاتړ یې دې وکړي.

دا چې د طالبانو او نړیوالې ټولنې ترمنځ اسلام‌اباد خبرې کولې، ځکه نو ډېرو ته جوته وه چې د طالبانو کنټرول د پاکستان په لاس کې و، خو طالبان او یا هم د هغوی ځینې مشـران د پاکستان پر اراده شکمن وو. له استثناء پرته ډېر باور دا دی چې پر طالبانو د اسلام‌اباد کنټرول سست او ژر ماتېدونکی و. طالب مشـرانو په وار وار د پاکستان هغه غوښتنې رد کړې وې چې غوښتل یې طالبان ورسره ډیورنډ کرښه د یوې نړیوالې رسمي کرښې په توګه ومني. د افغانستان پخوانیو حکومتونو هم دا غوښتنه په ټینګه رد کړې وه.

په دې اړه د طالبانو د حکومت پخواني ډیپلومات، ملا عبدالسلام ضعیف راته وویل: ((پاکستان له موږ درې ځله په رسمي توګه د ډیورنډ کرښې د منلو غوښتنه وکړه. موږ تل هغوی ته ویل چې موږ یو ملي حکومت نه یو چې دا ډول بنسټیزه پرېکړه وکړو، موږ د یوه بېړني حکومت په څېر یو.)) په ۲۰۰۱ ز کال د امریکا د حکومت د فشارونو په سبب پاکستاني زورواکي جنرال پروېز مشـرف طالبانو ته مشوره ورکړه چې د نړیوالو غوښتنې ومني. د هغوی په ځواب کې ملا محمدعمر مشـرف ته مشوره ورکړه چې په پاکستان کې دې اسلامي شریعت پلی کړی او یو اسلامي حکومت دې جوړ کړي. ملا محمدعمر د ۲۰۰۱ ز کال د جنوري په ۱٦مه مشـرف ته په یوه لیک کې لیکلي وو: ((له دې سره به په پاکستان کې اسلامي ګوندونه راضي شي، نارضایتي او چیغې به یې بندې شي. د اسلامي اېډیولوژۍ له نظره دا زموږ مشوره او پیغام دی. نور تاسو خپله ښه پوهېږئ چې څه وکړئ.))

### د افراطیت پول

د طالبانو له راپیدا کېدو ډېر مخکې عرب بنسټپالو په افغانستان کې نظامي اډې لرلې. هغو زرګونو افراطي جنګیالیو ته چې له مراکش او مسقط څخه راغلي وو، په ناسمه توګه (افغان عربانو) نوم کارېده، هغوی ۱۹۸۰ ز لسیزه کې د شورویانو پر وړاندې جګړه کې هم اغېزناک رول نه لاره. د افغان مجاهدینو قومندانانو ته یې مرستې او سرچینې برابرولې او د خپلو راتلونکو افراطي فعالیتونو لپاره یې تجربې او اړیکې پیدا کولې. دا عربان د پاکستان په پېښور او میرام شاه کې مېشت وو.

عربان به له پولې اوښتل او د خوست په ځاځیو ولسوالۍ او ننګرهار کې به خپلو نظامي اډو ته ورتلل. د هغوی اړینې اډې د المسدا (د زمریانو جونګړه) په نوم یادېده چې په خوست کې وه، بل نظامي تونل یې د ننګرهار په خوږیاڼیو ولسوالۍ کې و. عرب جنګیالیو د افغان کلتور په اړه کم معلومات لرل، د افغان مجاهدینو له مشـرانو سره یې د هغوی د سیاسي سلیقو پر بنسټ کمه همکاري کوله. هغوی به په عامه ویل چې په افغانستان کې جهاد د اسرائیلو او غرب پر وړاندې د جهاد لومړۍ خښته ده. د القاعدې بنسټ هم په پېښور کې کېښودل شو، خو د دې ډلې مشـري هېڅکله کوم پښتانه، افغان او یا هم پاکستاني ونه کړه. د القاعدې په اجنډا کې هېڅکله د افغانستان لپاره د سولې او ثبات او د پښتنو د هوساینې پروګرامونه نه وو.

د عربو په منځ کې یو هم عبدالله یوسف عزام و، هغه په اصل کې فلسطینی او د اخوان المسلمین له نظریې څخه یې الهام اخیستی و. نوموړی د القاعدې بنسټ اېښودونکی و. په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې د نړیوال جهاد د یوه مهم طراح په توګه، عزام په خپل اثر (له کاروان سره یو ځای شئ) کې خپلې ځرګندونې لیکلې دي. د عزام په اند د مسلمانانو تر ټولو لویه بدبختي د جهاد نه کول وو. هغه لیکلي چې د فلسطین او افغانستان جهاد پر هر مسلمان فرض دی. هغه لیکلي: ((جهاد تر ټولو غوره عبادت دی، له دې لارې مسلمانان لوړو مرتبو ته رسېږي. زما د تجربې او پوهې له مخې ویلای شم چې جهاد پر هر وګړي په ځاني او مالي توګه فرض دی، په دې خبره کې د ټولو مذهبونو اتفاق دی. مفسرین، د احادیثو عالمان او اصول هم په ورته نظر دي.)) په فلسطین کې جهاد د هغه له اساسي موخو څه و، هغه لیکلي:

**دوام لري...**

# ختیځ تیمور

حشمت الله نوري



ختیځ تیمور په جنوب ختیځه آسیا کې د اسټرالیا شمال لور ته د هند او ارام سمندرونو او د هغوی د اړوندو سیندونو تر منځ، د شمالي عرض البلدونو د شپږو درجو او د جنوبي عرض البلدونو د اتو درجو او ختیځ طول البلدونو د ۱۲۰ او ۱۳۰ درجو تر منځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۵۷۴۳ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۱۵۹م لوی هېواد دی.

د ختیځ تیمور شمال ته د باندا سیند، جنوب ته د تیمور سیند، ختیځ ته ارام سمندر او لوېدیځ ته یې اندونیزیا موقعیت لري.

تیمور له دریو خواوو د سیندونو او ارام سمندر اوبو کلابند کړی او د استوا کرښه دغه هېواد ته نږدې تېرېږي، نو له همدې امله د سړو او تودو میاشتو د هوا توپیر لري. دغه هېواد د نورو هېوادونو په شان څلور جلا اقلیمي فصلونه نه لري او ټول کال د لږ اورښت او ډېر اورښت پر موسمونو وېشل کېږي.

تیمور پخوا د اندونیزیا یوه سیمه وه، اندونیزیا ۱۳۵۹۵ ټاپوګان لري چې ٦۰۰۰ یې استوګن خلک لري. اندونیزیا د نړۍ دوې لویې وچې آسیا او اوقیانوسیه او دوه سمندرونه د هند سمندر او آرام سمندر سره نښلوي.

د دغه هېواد پلازمېنه د ډیلي ښار دی او ټولټال څه باندې یو میلیون نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۵۴ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۸۰ سلنه وګړي په ښارونو او پاتې ۲۰ سلنه یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. په دغه هېواد کې هره کورنۍ د جوړ شوي قانون له مخې په ټول عمر کې یوازې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

ختیځ تیمور ۱۳ اداري ولسوالۍ لري. داره، باوکاو، مالیانا او ارمیرا یې مهم ښارونه دي.

د ختیځ تیمور د حکومت ډول ډیموکراټیک جمهوریت دی. د تیمور اساسي قانون د ۲۰۰۲ ز کال د مې په ۲۰مه نافذ شوی دی. د تیمور اوسنی ولسمشر فرانسسکو او لومړی وزیر یې تار متن دی.

د تیمور د اساسي قانون له مخې، د ولسمشر دنده تشریفاتي ده، خو په ځینو وختونو کې حق لري چې قضاییه قوه، ویټو ملي شورا رنګه او د نویو ټاکنو غږ وکړي.

د دغه هېواد ولسمشر د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي او دوه ځله د کار حق لري. په دغه هېواد کې هغه څوک د لومړي وزیر په توګه ټاکل کېږي، چې ګوند یا د ګوندونو ائتلاف یې په ملي شورا کې ډېرې رایې وګټي. د تیمور د کابینې وزیران د لومړي وزیر په وړاندیز د ملي شورا اکثریت رایې ته اړتیا لري. ملي شورا کولی شي چې وزیران احضار او منفي رایه ورکړي.

ولسواک ګوند، د تیمور د بیاجوړونې ملي کانګرېس، د تیمور مقاومت ملي ولسواک اتحاد او د ملي یووالي ګوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

ختیځ تیمور د ۱۹۷۵ ز کال د نومبر په ۲۸مه د پرتګال له اوږدې واکمنۍ وروسته د خلاصون وړځ او د مي په ۲۰مه له اندونیزیا څخه خپلواکي واخیسته.

تیمور په یوویشتمه پېړۍ کې د نړۍ تر ټولو نوی او ځوان هېواد بلل کېږي. د ۲۰۰۲ ز کال د مي په ۲۰مه تیمور خپله خپلواکي تر لاسه کړه او د اندونیزیا د ستر اسلامي هېواد په ګاونډ کې د آسیا دویم مسیحي هېواد په رسمي توګه جوړ شو.

ختیځ تیمور تر ۱۹۷۵ ز کال پورې د پرتګال په ولکه کې و، دغه شان اړیکو څلور نیمې پېړۍ دوام درلود، په دغه اوږده موده کې د تیمور اقتصاد د پرتګال د پلانونو او ګټو له مخې اداره کېده. د ۱۹۷۵ او ۲۰۰۲ ز کلونو تر منځ تیمور د اندونیزیا د یوې سیمې په توګه د اندونیزیا د مرکزي دولت اقتصادي چارواکو اداره کاوه.

د ۱۹۹۹ ز کال د سپټمبر په شلمه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ختیځ تیمور ته د ۵۰۰۰ سوله ساتي پوځ د استولو پرېکړه وکړه. هغه وخت چې اندونیزیایي پوځونه له تیمور څخه په شا شول او تیمور خپله خپلواکي تر لاسه کړه، د تیمور اقتصادي بیارغونه پیل شوه. دغه بیارغونه په دوو برخو کې د پاملرنې وړ ده. د ښارونو پراختیا او د کلیو پرمختګ.

د ۲۰۰۵ ز کال له پیله تر پایه ځینې پخواني بې ځایه شوي او مهاجرین یا بېرته تیمور ته ستانه شول او یا په اندونیزیا کې ځای پر ځای او هملته مېشت شول. په ۲۰۰۲ ز کال کې د تیمور اقتصاد له دې لویو ستونزو سره مخ و، د اقتصاد د ورانو بنسټونو بیا جوړونه او د نویو بنسټیزو پروژو جوړول، د ملکي اداري پیاوړتیا او ځوانانو ته کار موندنه، د تیمور د ساحلي سیمو د تېلو او ګازو صادراتو د دغه نوي دولت عواید زیات کړل. دغه هېواد په تېرو کلونو کې د خپلو تېلو او ګازو د تاسیساتو په نوي کولو کې ډېره پانګه ولګوله، خو دغه پرمختګ د وزګارتیا ستونزه حل نه کړه، ځکه چې نوي ماشینونه او ټکنالوژي عصري وو، لږو متخصصو او مسلکي کارګرانو ته یې اړتیا درلوده او له بلې خوا ګاز په تیمور کې نه چاڼ کېدل او د یوې نللیکې په واسطه د اسټرالیا چاڼخونو ته صادرېدل.

په ۲۰۱۰ ز کال کې د تیمور دولت په هېواد کې د لویو لارو پر جوړولو، د برېښنا په تولید او وېش ښوونه او روزنه او روغتیا باندې ډېرې پیسې ولګولې. سره له دې چې تیمور اوس هم اقتصادي ستونزې لري، خو د دغه هېواد دولت او د اقتصاد خصوصي سکټور په ګډه هڅه کوي چې ډېرې بریاوې تر لاسه کړي او تیمور د سیمې د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودروي.

د تېلو او ګازو ایستل، د تېلو چاڼ، سپک او منځنی ماشینونه، برېښنایي وسایل، خوراکي توکي، ربړ، ټایرونه، پلاستیک، ټوکران، جامې، کورني وسایل، لږ کیمیاوي مواد، صابون او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي توکي بلل کېږي.

د دغه هېواد نهه سلنه ځمکه د کرلو وړ ده. د دغه هېواد ۱۸ سلنه ځمکه څرځایونو او پاتې نوره ځنګلونو، غرونو غونډیو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.

د تیمور ۸۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاسته راځي. قهوه، وریجې، جوار، خواږه، کچالو، هګۍ، لبنیات او غوښه د دغه هېواد مهم محصولات دي.

د ختیځ تیمور د ټلیفون کود ۰۰٦۷۰ او د انټرنېټ کود یې TL دی، چې ټولټال یې څلور سوه زره کسان ورته لاسرسی لري.

د تیمور په مرکز کې د دولتي خپرونو یو ټلویزیوني چینل او د دغه هېواد د هر ولایت په مرکز کې یوه دولتي راډیو شته ده. اوس اوس په ختیځ تیمور کې خصوصي میډیا هم پر فعالیت پیل کړی دی.

ختیځ تیمور د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د آسیا او نړۍ یو پرمختلونکی هېواد بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۰ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړې له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري دي.

مخکې له دې چې پرتګالیان د تیمور ټاپو ته ورسېږي، اعرابو او چینایانو دغه سیمه پېژندله او د تیمور له اوسېدونکو سره د دغې سیمې د ښایسته ځنګلي لرګیو پر سوداګرۍ بوخت وو. پرتګالیان هم لومړی له تیمور سره سوداګري پیل کړه. د ۱٦مې پېړۍ په لومړنیو کلونو کې ځینې پرتګالي سوداګر د تیمور په ساحلي سیمو کې مېشت شول او د دې سیمې له سوداګرو سره یې د درملو، ملغلرو او لرګیو سوداګري پیل کړه. په همدې کلونو کې هالنډیان هم تیمور ته ورسېدل او د تیمور د وېش په اړه له پرتګالیانو سره موافقې ته ورسېدل. په ۱۸۵۹ ز کال کې دا وېش عملي شو، د تیمور لوېدیځه خوا پرتګالیانو ونیوه، چې نن د ختیځ تیمور په نامه خپلواک هېواد دی.

د نړۍ په دویمه جګړه کې جاپاني پوځونه دې سیمې ته ورسېدل، د ارا فورا سیند، د تیمور سیند د باندا سیند، د تیمور ټاپو او ډېر نور ځایونه یې ونیول، خو کله چې جاپان په جګړه کې ماتې وخوړه، په تیمور کې د خپلواکۍ غوښتنې خوځښتونه د تېرې پېړۍ په اویایمه لسیزه کې متحد او پیاوړي شول. په پرتګال کې سیاسي بدلونونو د پرتګال ډېرو پخوانیو مستعمرو ته د خلاصون او خپلواکۍ لاره اواره کړه او یو نوی سیاسي چاپېریال منځ ته راغی.

د ۱۹۷۴ ز کال په سپټمبر کې د ختیځ تیمور د خپلواکۍ انقلابي جبهه جوړه شوه، چې اختصاري نوم یې فره تیلین و.

د ۱۹۷۵ ز کال د نومبر په پیل کې له ختیځ تیمور څخه د پرتګالي اډو د وتلو او د دغې سیمې د خپلواکۍ شرایط برابر شول. په همدې وخت کې د اندونیزیا دولت هم دا خبره وړاندې کړه، چې ختیځ تیمور د اندونیزیا د خاورې یوه برخه ده او اوس به له اوږده بېلتانه وروسته بېرته له خپلې مورنۍ خاورې سره یو ځای کېږي.

د ۱۹۷۵ ز کال د نومبر په ۲۹مه فره تیلین د اندونیزیا د راتلونکو ګامونو له وېرې، د ختیځ تیمور د ډیموکراټیک جمهوریت خپلواکي اعلان کړه. اندونیزیا دا خپلواکي ونه منله او نهه ورځې وروسته یې ختیځ تیمور ونیو. یو کال وروسته ختیځ تیمور د اندونیزیا یو ولایت جوړ شو او ټول اداري او پوځي چارواکي یې د جاکارتا لخوا وټاکل شول، خو ملګرو ملتونو د اندونیزیا پوځي عمل ونه مانه او غوښتنه یې وکړه چې د تیمور ستونزه دې د خبرو له لارې حل شي.

افغانستان د ختیځ تیمور له ځوان دولت سره لا تر اوسه هېڅ راز اړیکې نه لري. له افغانستانه تر ختیځ تیمور پورې د هوا له لارې فاصله ۷۹۱۸ کیلومترو او همدا راز د کابل او ډیلي تر منځ د وخت توپیر ۴:۳۰ ساعتونو ته رسېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸ |
| € | ۸۵،۸۰ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱،۳۰ |
| £ | ۹۴ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# منفي لېبلونه چې در باندې لګول شوي، لرې یې کړئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

کله چې ځوان (وینزټي) ته د یوې ورځپاڼې مسؤول مدیر وویل، کافي وړتیا نه لري او د نوښت ځواک یې کمزوری دی. (لیسیل بال- Licille Ball) ته وویل شول چې د لوبېدو ښه وړتیا نه لري، باید په کومه بله دنده پسې وګرځي او (وینستون چرچل) ښه زده کوونکی نه بلل شو او د سندهورسټ (Sandhurst) نظامي کالج ته د ازموینې پر مهال دوه ځله ناکام شو.

په یادو ټولو کسانو کې یو ګډ ټکی دا و چې پرې سرېښ شوي منفي لېبلونه یې را وشکول او له منځه یې یوړل، ځکه هغه د خپل ځان په اړه له نورو ښه فکر کاوه، ځانونه یې ښه پېژندل او د لېبلونو پر خلاف یې ډېر ښه او بریالی ژوند وکړ. نن هم کټ مټ هماغه ډول کار روان دی. خلک پر مور منفي لېبلونه سرېښوي. خلک وایي، دغه کار کولای شې او دغه کار نه شې کولای.

دغه څه لري، خو دغه څه نه لري. ډېر کله دغه لېبلونه له یاد کس سره برابر نه دي چې خدای پاک زموږ په اړه ویلي دي، خو که مور د ځان په اړه او د هغه څه په اړه چې خدای پاک زموږ سره وعده کړې ده پوه نه وو، په پټو سترګو د خلکو دا خبرې او پر مور یې منفي سرېښېدونکي سټیکرونه منو. له بده مرغه باید ووایم، که مور ډېرې وخت دغه منفي سټیکرونه د واقعیت په توګه ومنو، په وجود کې مو ریښې ځغلوي او په داسې کسانو بدلېږو، چې لېبلونه یې وایي نه هغه څه چې خدای پاک یې فرمایي.

یو کس مې ولید، د ښوونځي سلاکار یې ورته ویلي چې د علمي زده کړو په برخه کې چندان وړتیا نه لري، ښه ده چې له دې پرته پر یوه بل مسلک فکر وکړې. د نوموړي زده کوونکي سلاکار په یاد کس د لږ وړتیا لرونکي یا په بل عبارت د هېڅ وړتیا لرونکي سټیکر لګولی و. دې سړي کلونه دغه سټیکر پر خپل ذهن همداسې ټپلی ساتلی و او له ځان سره به یې ویل چې چندان وړتیا نه لرم، زه ډېر هوښیار نه یم او نشم کولای لوی کارونه وکړم.

نوموړی له ښوونځي وروسته په یوه کوچنۍ فابریکه کې ډېره ټیټه دنده پیل کړه. کټ مټ لکه څه ډول چې ورته ویل شوي وو. کلونه وروسته هغې فابریکې سقوط وکړ او دغه کس یوې بلې فابریکې ته د دندې لپاره غوښتنلیک وسپاره. د



فابریکې اداري له نوو کسانو څخه د فکر او نوښت ازموینه واخیسته. پوهېږئ، د دې کس فکري قوه او نوښت دومره لوړ و چې د ټولو په سر کې راغی او د یوه نابغه په څېر و. د فابریکې څښتن ورته وویل، تا ولې له دومره لوړ فکر سره سره دومره وړې دندې ته اپلای کړی دی؟

پوهېږې، ته په تېرو شپېتو کلونو کې د هغو کسانو په سر کې راغلې چې موږ ترې د فکر او نوښت ازموینه اخیستې ده. ته د یوه لوړ او پیاوړي فکر څښتن او د ځانګړي نوښت لرونکی یې. هماغه وو چې د سړي په ذهن کې منفي سنګر مات او له ځان څخه یې هغه سټیکر لرې کړ، چې لږ تر لږه اویا کاله یې له ځان سره لېږدولی و او د نوموړي د وروسته پاتې والي لامل شوی و. شرکت یې جوړ کړ او بازار ته یې بېخي نوي توکي وړاندې کړل او د دې شرکت ټول واک او اختیار یې لاس کې واخیست.

که غواړې په ژوند کې لوړ پړاوونه ووهې، د همدې اویا کلن کس په څېر له ځانه هغه لېبلونه لرې کړئ چې پرمختګ ته مو نه پرېږدي او نه مو پرېږدي چې له خپلو وړتیاوو ګټه واخلئ. د ښه ژوند لپاره چې څومره شوني وي، هڅه او پرمختګ وکړئ، پر تاسې چا منلې، تر کومه ځایه یې چې امکان وه، پرمختګ مو کړی له دې ډېره هڅه مه کوئ؟

یا مو د تېروتنو شمېر دومره ډېر دی چې د پرمختګ شونتیا نه وینئ او هېڅکله به خپلو موخو ته ونه رسېږئ؟

باید پوه شئ چې تاسې په مخ کې هېڅ خنډ نه لرئ. هڅه وکړئ چې له ځان سره له دې لېبلونو هېڅ یو مه لېږدوئ. خلک ستاسې راتلونکي نه شي ټاکلی، یوازې خدای پاک دی چې ستاسې راتلونکې درته ټاکي. خامخا مو د ځان په اړه له خلکو له خولې منفي کلمات اورېدلي دي ان د هغو کسانو له خولې چې تاسې به یې هڅولئ. زه له دې خبرې سره ډېره مینه لرم چې د تورې وار جوړېږي، خو د بدې خبرې ټپ نه جوړېږي. د بدې یا منفي خبرې ټپ د لېبل په څېر په تاسې پورې نښلي. هغه خبره چې ستاسې په اړه کېږي، لازمه مو نه ده تعریف کړي. ایا د دې زړه لرئ چې زما د پلار په څېر او یا هم د هغه اویا کلن سړي په څېر چې مخکې مو یې یادونه وکړه کار وکړئ او منفي لېبلونه مو له ځانه لرې کړئ؟

له هغه ځایه پورته شئ چې مور، خور، حاسدو کسانو او یا هم همکارانو په بدو او منفي نومونو یاد کړي یاست. تاسې هغه څوک نه یاست چې خلک وایي. تاسې هغه څوک یئ چې خدای پاک وایي. خلک نه شي کولای زموږ د تقدیر خنډ شي. پخوانۍ ټاپې او منفي لېبلونه له ځانه لرې کړئ. زه به تاسې ته نوي لېبلونه درکړم. هڅاند، لوی، تاریخ جوړوونکی او نړۍ ته بدلون ورکوونکی.

زما ملګری ډیل براون (Dale Brown) چې د باسکټبال د (ایل، ایس، یو LSU) افسانوي ټیم لارښود دی، د هغې پېښې کیسه کوي چې په کلیفورنیا کې یې د سرتېرو یوې ډلې ته خبرې کولې. دی وایي، کله مې چې خبرې خلاصې شوې، یو ځوان مې مخې ته راغی چې دوه متره او دوه سانتي متره ونه او ۱۲۰ کیلو ګرامه وزن یې درلود. ځوان راته وویل، براونه!

زه غواړم د باسکټبال په ټیم کې شامل شم، خو نه شم کولای ښې ضربې ووهم. نه شم کولای په اسانۍ جمپ ووهم، کله چې جمپ وهم، پښې مې ډېرې ژر ستړې کېږي او یوازې څو دقیقې لوبه کولای شم.

لارښود براون هغه ته همداسې کتل او ورته وېې ویل، زویه! څومره وخت کېږي چې په پوځ کې دنده تر سره کوې؟

بیا یې د هغه بوټونو او څېرې ته وکتل. ځوان ورته وویل، زه په پوځ کې نه یم، پلار مې په پوځ کې دی، زه تر اوسه ۱۵ کلن یم. لارښود براون دغه ځوان له مټو ونیو، وېې ښوراوه. ځوان ته یې وویل، اندېښنه مه کوه، کله چې بېرته لوییزیانا ته لاړم ځینې تمرینونه درته لېږم، یو څه سخت دي، خو دغه تمرینونه به درسره مرسته وکړي او د پښو ځواک به دې لوړ کړي.

لارښود براون ته درې میاشتې وروسته د دې ځوان یو لیک راورسېد چې پکې لیکلي یې وو. ښاغلی براون! هغه تمرینونه چې تاسې یې راته لارښوونه کړې وه، عملي مې کړل. په ساعتونو په میدان کې لوبه کوم، پوهېږې! د باسکټبال استاد له لوبې و ایستم، راته وېې ویل ته ډېر لوی او ډېر مردار یې او هېڅکله نه شې کولای دغه لوبه مخ ته یوسې. په دې کس هم منفي لېبلونه سرېښ شوي وو.

براون بېرته نوموړي ځوان ته لیک واستاوه:

زویه که ته همداسې خپل تمرین ته ادامه ورکړې، هره ورځ لوبه وکړې، هیله من اوسې او له خدای پاک مرسته وغواړې، هرومرو به هغه ځای ته رسېږې چې غواړې ورسېږې.

دې ځوان به هرومرو پرېکړه کوله:

زه باید ټول عمر همدا منفي ټاپې له ځان سره وګرځوم او ژوند ورسره وکړم. غټ والی، سستي او ګنګس توب او که هو هیلو ته رسېدل چې خدای پاک یې را سره وعده کړې ده. یا ښه فکر وکړم چې په بدل کې یې ښه ژوند وکړم. ایا باید پر دې باور وکړم چې زه یو هڅاند کس یم او ډېر لوی لوی کارونه تر سره کولای شم. هغه ټول منفي فکرونه او لېبلونه یې له ځانه لرې کړل.

دغه کس شکیل اونیل(Shaquille O'Neal) و. هغه لوییزیانا ته لاړ او د براون لپاره یې لوبه وکړه، هغه نړیوال ریکارډونه مات کړل او د باسکټبال په نړۍ کې تاریخ جوړوونکی شو. نن د شکیل اونیل مجسمه (هغه هلک چې په سختۍ وتوانېد خیز ووهي) د یوې کړۍ په منځ کې د تابکروز د باسکټبال روزنځای کې نصب شوې ده. زه په دې اړه فکر کوم چې که هغه له منفي فکرونو سره ژوند کړی وای، نن به مو د باسکټبال په لوبو کې د هغه د ۱۹ کلن حضور په اړه خبرې نه کولې.

# شهزاده مسعود: د لویو ملي مسایلو په اړه پرېکړه باید لویه جرګه وکړي

په داسې حال کې د انتقالي حکومت، اوربند او ګڼو نورو مسایلو په اړه خبرې روانې دي، کارپوهان وایي، هغه تصمیم چې ولس پکې ښکېل نه وي، ستونزې نه شي حل کولی.

د پخواني ولسمشر حامد کرزي سلاکار شهزاده مسعود وایي چې د بین الافغاني خبرو پرېکړې او د سولې په اړوند نور لوی مهم ملي مسایل باید له لویې جرګې څخه تایید واخلي.

نوموړی وایي، که پرېکړې سمې هم وي، خو چې ولسي ملاتړ ونه لري، نو پایله به یې سمه نه وي؛ له همدې امله هر پرېکړه باید له ولس سره شریکه شي او تایید ترې واخیستل شي.

شهزاده مسعود له ولس سره د پرېکړو د شریکولو اساسي لاره لویه جرګه ګڼي چې د خلکو ریښتینې استازي به پکې برخه اخلي. نوموړی ټینګار کوي چې دا



جرګه باید پوره ولسي وي او د حکومت یا بلې ډلې سیورې پرې خور نه وي.

شهزاده مسعود د سولې روانو خبرو ته هیله مندي ښیي او وایي چې پکار ده چې د بین الافغاني خبرو لپاره تیارۍ ونیول شي او یو داسې پلاوی وټاکل شي چې ټول سیاسي لوري پرې توافق ولري او د افغانانو له ګټو دفاع وکړي. نوموړی زیاتوي چې له بده مرغه حکومت لا هم د داسې ټیم په جوړولو کې ستونزې پیدا کوي او په دې برخه کې خپل مسوولیت نه ترسره کوي.

د نوموړي دغه څرګندونې داسې مهال دي چې تازه خلیلزاد له وسله والو طالبانو سره د افغان سولې په تړاو له نهم پړاو خبرو کابل ته راستون شوی او نوموړي به په دې پروسې کې د پرمختګ په تړاو له افغان چارواکو سره خپل معلومات شریک کړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اجمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey








دوشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر دویمه | ۴۲٤مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۳ | ۳۷ | ۳۲ | ۳٦ | ۲۹ |
| ۱۹ | ۱۵ | ۲۰ | ۲۰ | ۲۸ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۰ | لمر ختل ۰۵:۲۹ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازدیگر ۰۳:۳٤ | ماښام ۰٦:۲۱ | ماخوستن ۰۷:٤۸


## نړۍ



# مکرون: ایران دې په اوسني حالت کې له زغم څخه کار واخلي

۳

## حامد کرزی: دست‌های بیگانه در تلاش برافروخته نگهداشتن آتش جنگ در کشور ماست



حامد کرزی رئیس جمهور پیشین کشور، از طرف‌های افغانی درگیر خواست تا از جنگ دست بردارند و از دسایس بیگانه‌ها که ادامۀ جنگ در کشور است، خود را آگاه سازند.

در اعلامیۀ مطبوعاتی دفتر رئیس جمهور پیشین آمده است که متأسفانه یکبار دیگر مردم شریف کندز، از اثر جنگی که به وقوع پیوست، متقبل خسارات جانی و مالی گردیدند.


این در حالی‌است که طالبان مسلح، سه شب قبل از سه استقامت بالای شهر کندز حملات تهاجمی کردند و در برخی مناطق مرکزی شهر نیز وارد شدند؛ اما بعداً با مقاومت شدید نیروهای امنیتی مواجه گردیدند و تا بعد از ظهر، از برخی مناطق شهر به عقب زده شدند.

حامد کرزی در این اعلامیه افزوده است: «در حالیکه مذاکرات صلح به مراحل حساس خود رسیده است و مردم افغانستان بی صبرانه چشم به راه ختم جنگ و خونریزی و برقراری صلح در کشور اند، دست‌های بیگانه در تلاش برافروخته نگهداشتن آتش جنگ و ادامه خونریزی در کشور ماست؛ تا از این راه به اهداف شوم شان نایل آیند».

موصوف باز هم تکراراً از طرف‌های افغانی درگیر خواسته است تا دست از جنگ و تشدد بردارند و با هوشیاری و درایت کامل، از دسائس بیگانه گان که همانا ادامه جنگ در کشور است، خود را آگاه ساخته و یکجا با همه مردم افغانستان به منظور تأمین صلح و ثبات دایمی و سرتاسری در کشور، بر تسریع روند صلح که یگانه راه نجات کشور و افغانها از حالات ناهنجار کنونی است، تمرکز نمایند.

این در حالی‌است که از اثر حملۀ طالبان بر شهر کندز، ۲۷ سرباز و غیرنظامی کشته شده و ۱۱۴ تن از جانبین زخم برداشته اند.

## په امریکا کې وسله وال بریدگر ۲۱ کسانو ته مرگ ژوبله اړولې



د امریکا د ټکزاس ایالت په لوېدیځ کې وسله وال برید شوی، چې پکې پنځه کسان وژل شوي او ۱٦ نور ټپیان دي. رپوټونه وایي چې بریدگر له یوه گاډي پر عامو خلکو ډزې کړې دي.


د دغه ایالت پولیس وایي، د دوی موندنې په ډاگه کوي چې برید یوه ۳۵ کلن سپین پوستي کس کړی چې دوی پېژندلی، خو د څېړنو تر بشپړولو به يې نوم او نور جزیات څپاره نه شي. چارواکو ویلي چې یاد برید د اودیسه او میډلنډ ښارونو ته په نږدې سیمه کې شوی دی.

په لومړیو رپوټونو کې ویل شوي وو چې یو بل وسله وال هم د برید تکل لري او پولیسو هم ویلي وو چې د دویم بریدگر په اړه څېړنې رواني دي، خو له پېښې څو ساعته وروسته پولیسو وویل، چې د دویم برید مخه یې نیولې ده.

د پولیسو یوه ویاند خبریالانو ته ویلي چې په دغه برید کې پنځه کسان وژل شوي او نږدې ۱٦ نور ټپیان دي. د راپورنو له مخې، بریدگر لومړی پر هغه پولیس برید کړی او وژلی یې دی چې د ده موټر یې درولی و او وروسته یې له موټر څخه پر عامو خلکو ډزې کړې او په پایله کې پولیسو هغه په ډزو وژلی دی.

د یادونې ده چې تېره میاشت هم د امریکا د اي اېل پاسو په ټیکسان ښار کې یو وسله وال ۲۲ کسان ووژل او په لسگونو نور یې ټپیان کړل.

## په سوریه کې امریکایي ځواکونو لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اړولې



په داسې حال کې چې د سوریې په شمال لوېدیځ کې د اوربند له پیله چې روسیې یې اعلان کړی و، څو ساعته نه وو تېر شوي چې د امریکایي ځواکونو یوه برید لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله واړوله.

د امریکا دفاع وزارت ویلي، په دغه برید کې د القاعدې ډلې اړوند یو مرکز په نښه شوی دی، خو لا نه ده معلومه چې دا برید الوتکې کړی او که له کومې لرې سیمې په توغندي شوی دی.

د امریکا دفاع وزارت په یوه بیان کې ویلي، چې دغې ډلې امریکایي وگړي، د امریکا متحدین او ملکي وگړي په نښه کول.

بلخوا په برېټانیا کې مېشت د سوریې د بشري حقونو سازمان ویلي، په دغه برید کې د حراس الدین، انصارالتوحید او له دوی سره د متحدو ډلو نږدې ۴۰ مشران وژل شوي دي. دا مشران ادلیب ښار ته څېرمه د وسله والو ډلو په یوه روزنځای کې راټول شوي وو. حراس الدین او انصارالتوحید هغه ډلې دي چې د شام د ازادۍ اتحاد ترڅنگ چې پخوا د جبهة النصرې په نوم یادېده، فعالیت کوي.

امریکا دغه برید داسې مهال کړی چې په دغه ښار کې د جگړې ښکېلو لورو له څو ورځو راپدېخوا اوربند اعلان کړی دی.

دا دویم ځل دی چې په ادلیب او شاوخوا سیمو کې اوربند اعلان شوی، خو له تېر اپرېل راهیسې د روسیې د هوایي ځواکونو په ملاتړ، حکومتي ځواکونو د ادلیب د نیولو لپاره عملیات پراخ کړي دي.


CoAR 1989

هماهنگی کمک ها برای افغانها

Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی WFP تصمیم دارد تا برای مهار نمودن آب دریا و جلوگیری از تخریب زمین در ولایت بامیان، 11 قریه ولسوالی سیغان گبین‌ها خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (September 02, 2019) الی (September 07, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af